ILSAA
IMMIGRATION LEGAL SERVICES
FOR AFGHAN ARRIVALS
خدمات حقوق مهاجرت برای افغانها

# بیړنی (عاجل)

د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالۍ دخدماتو اداري (USCIS) سره خپل آدرس (پته) تازه کړئ

## د متحده ایالاتو حکومت ستاسو اوسني آدرس یا پتې ته اړتیا لري ترڅو تاسو سره په امریکا کې د دایمي استوګنې په بهیر کې مرسته وکړي.

مونږ تاسو ته دا توصیه کوو چې داړ ترلاسه کړئ چې د لاندي مرحلو یا ګامونو په تعقیبولو سره د خپل نوي ادرس راپور د متحده ایالاتو دولت ته ورکړئ. هر ځل چې په متحده ایالاتو د ژوند کولو پرمهال خپل آدرس یا پته بدلوئ، تاسو باید لاندیني مرحلې تعقیب کړئ. ستاسو د ادرّس یا پته تازه ساتل متحده ایالاتو حکومت سره ستاسو د مهاجرت په قضیه کې د ستونزو څخه مخنیوي کې مرسته کوي.

### د ادرس د بدلولو فورمه باید څه ډول ډکه کړل شي

**لومړی ګام:**

دغه ویب پاڼې ته مراجعه وکړئ https://egov.uscis.gov/coa/displayCOAForm.do

Have you filed an immigration-related application or petition and your case is pending a decision or you have not received a notice, card, or document?

YES NO

**دویم ګام: (هو) یا (نه) ځواب غوره کړئ**

که تاسو د متحده ایالاتو حکومت ته د کډوالۍ اړوند غوښتنلیک سپارلی وي. وروسته له دې چې تاسو «هو» تڼي کښیکاږئ ، یوه فورمه به پرانستل شي ، او تاسو کولی شئ د خپل غوښتنلیک تاییدي څخه فورمې شمیره، د فورم فرعي ډول، د رسید شمیره او زیپ کوډ (پوسټ کوډ) داخل کړئ (لاندې د "I-797C فورمه د عمل خبرتیا" وګورئ).

Case Information

| Form Number* | Form Sub Type* | Receipt Number* ? | Zip code used when filed* |
|---|---|---|---|
| - Select One | - Select One | | e.g. 22030 |
| د انتخاب د لیست څخه د اړوند فورمې شمیره غوره کړئ. | د فورم فرعي ډول (د غوښتنلیک نوم) انتخاب کړئ او تاسو ته به د فورمې اړوند د انتخاب لیست پرانیستل شي | دلته خپل د رسید شمېره ولیکئ. کله چې د رسید شمېره داخلوئ ډیشونه "-" (د منفي علامه) مه لیکئ. خو، تاسو کولی شئ نور ټول کرکټرونه — د "*" په شمول په هغه صورت کې چې ستاسو په غوښتنلیک کې لیست شوي وي — ولیکئ. | هغه زیپ کوډ (پوسټ کوډ) چې تاسو په خپل دوسیه کې درج کړئ دی او ستاسو د(I-797C) فورمې په رسید کې ښودل شوی دی، هغه داخل کړئ. |

### د (I-797C) فورمې د اجرااتو خبرتیا

که تاسو خپل غوښتنلیک سپارلی وي نو په دې صورت کې تاسو باید د متحده ایالاتو له حکومت څخه د (I-797C) فورمه ترلاسه کړې وي. په دې فورمې کې به ممکن ځینې داسې معلومات وي چې تاسو به یې په دوهمه مرحله کې د قضیې د معلوماتو د ډکولو لپاره وکاروئ.

په دې دپه دې چوکاټ کې ستاسو د رسید شمېره لیکل شوې ده چې له دریو حروفو او لسو ارقامو څخه جوړه ده. د مثال په توګه: EAC، WAC، IOE ای MSC، NBC، SRC، LIN- او ۱۰ شمېرې (عدده).

په دې چوکاټ کې به ستاسو هغه ادرس ذکر شوي وي کوم چې دوی یې ستاسو په دوسیه کې لري ستاسو زیپ کوډ هم پکې شامل دی. د مثال په توګه
Ahmad Khan
545 Hemming St. Apt 5
Fairfax, VA 20190

دا یو زیپ کوډ دی.

په دې چوکاټ کې ستاسو د غوښتنلیک د فورمې شمیره او نوم لیکل شوئ دی.




وروسته له دې چې تاسو د قضیې معلوماتي برخه بشپړه کړئ، او یا که تاسو د "هو" ځواب انتخاب کړی وي او ستاسو فورمه ثبت شوي نه وي، په دې صورت کې "نه" انتخاب کړئ، او د ادرس د بدلون فورمه ډکولو لپاره دریم ګام ته لاړ شئ.

**دریم ګام ته لاړ شئ...**


د دې سند مطالب یوازې د مالوماتي موخو لپاره چمتو شوي او باید په هیڅ ډول د حقوقي مشورې په توګه ونه ګڼل شي. د کډوالو او پناه غوښتونکو لپاره د متحده ایالاتو کمېټه (USCRI) د متحده ایالاتو د روغتیا او بشري خدماتو وزارت، د ماشومانو او کورنیو اداري څخه د 140D0423C0027 نمبر قرارداد په اساس مالي سرچینې د آزادې سیالۍ له لارې ترلاسه کړئ دی. د نویو راغلو افغانانو لپاره د مهاجرت حقوقي خدمات - ایلسا (ILSAA) پروژه سل سلنه (۱۰۰٪) د فدرال حکومت د مالي سرچینو لخوا تمویل کیږي.


USCRI

# د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالۍ دخدماتو اداري (USCIS) سره خپل آدرس (پته) تازه کړئ

## بیرنی (عاجل)

خدمات حقوق مهاجرت برای افغان‌ها
ILSAA
IMMIGRATION LEGAL SERVICES FOR AFGHAN ARRIVALS

**دریم گام:** فورمه په انګلیسي ژبه ډکه کړئ       مهرباني وکړئ په یاد ولرئ: هره چوکاټ (باکس) کې چې د ستورې «*» علامه وي ځواب حتمي ولیکې




په چوکاټ کې له کین څخه ښي خوا ته: خپل لومړی نوم، منځنی نوم، او تخلص (وروستی نوم) ولیکئ. خپل هغه دقیق نوم ولیکئ کوم چې ستاسو د متحده ایالاتو په دولتي اسنادو یا پوستي اسنادو کې ذکر شوی وي.

ستاسو د «A» نمبر د بهرني اتباعو د ثبت شمېره ده چې د متحده ایالاتو حکومت تاسو ته د هغه شمیره په اساس پېژني. دا برخه اختیاري ده که تاسو ته کومه شمیره نه وي درکړل شوی، پرته له دې چې کومه شمېره ولیکئ. د فورمې ډکولو ته دوام ورکړئ. تاسو کولی شئ دا شمېره د کار د جواز په فورمه کې، د خپل رسید په خبرتیا کې، I-49 فورمه کې، د خپل رسید په خبرتیا کې )لاندې مثال وګورئ( او یا په ګرین کارت (دایمي اقامه) کې وموئ. دا د ۷څخه تر ۹ عدده پورې شمیرې دي چې د A په توري یا حرف پیلیږ ي.




ستاسو پخوانی ادرس هغه ځای دی چې تاسو په متحده ایالاتو کې کډه ترې کوی. دا هغه ادرس دی چیرې چې تاسو د متحده ایالاتو د حکومت لخوا د ږ ستې له لارې لیکونه ترلاسه کړي دي

ستاسو نوی ادرس هغه ځای دی چې تاسو په متحده ایالاتو کې ورکډه کیږئ

د ږست ادرس ممکن ستاسو د فزیکي ادرس سره توپیر ولري. که چیرې تاسو خپل ږست په هغه ځای کې نه تر لاسه کوی چیرې چې ستاسو کور دی او اوسیږی، نو په دېر احتمال سره ستاسو د ږست ادرس بیل دی

خپل نوم او تخلص تر (C/O) لاندې ولیکئ.




د خپل پُستي آدرس د ډکولو د څرنګوالي لپاره مثال وګورئ




USCRI
د دې سند مطالب یوازې د مالوماتې موخو لپاره چمتو شوي او باید په هیڅ ډول د حقوقي مشورې په توګه ونه ګڼل شي. د کډوالو او پناه غوښتونکو لپاره د متحده ایالاتو کمیټه (USCRI) د متحده ایالاتو د روغتیا او بشري خدماتو وزارت، د ماشومانو او کورنیو اداري څخه د 140D0423C0027 نمبر قرارداد په اساس مالي سرچینې د آزادې سیالۍ له لارې ترلاسه کړې دی. د نویو راغلو افغانانو لپاره د مهاجرت حقوقي خدمات - ایلسا (ILSAA) پروژه سل سلنه (۱۰۰٪) د فدرال حکومت د مالي سرچینو لخوا تمویل کیږي.

دریم ګام (په دوام): فورمه په انګلیسي ژبه ډکه کړئ

ستاسو پُستي ادرس باید هماغه وي چي تاسو د متحده ایالاتو حکومت سره په ټولو غوښتنلیکونو کي کارولي دي

An email address is required in order to receive a response from USCIS and the confirmation for the request

Email Address *

ahmadkhan@gmail.com

که تاسو دا پخپله ډکوئ، تاسو به غوښتونکی یا عریضه کونکی (Applicant or Petitioner) انتخاب کړئ

تاسو اړتیا نلرئ چي دا چوکاټونه ډک کړئ

Filed By

This form is completed by the*

Applicant or Petitic

My First Name *

My Last Name*

Firm or Organization Name*

Date G-28 Filed *

تاسو په ځر چوکاټ کي چي هغه توري ګورئ هغه په هماغه ډول ولیکئ. لوی یا کوچني مهم دي. که تاسو نشئ کولی دا په روښانه توګه ولولئ - او نوري مرستې ته اړتیا لرئ، عکس ریفریش (بیا تازه) کړئ یا په په آ دیو (Audio)بټن باندی کلیک وکړئ

Security Check*

Enter the letters shown below into the box. The letters are not case sensitive.

Can't read the letters? Click the Refresh Image Button for new letters or try the Audio Button.

JT D7QE

JT D7QE

Audio | Refresh Image

چوکاټ یا باکس چیک یا انتخاب کړئ او د ثبت تنی کنبیکاږئ

☑ By accepting this electronic signature, the applicant or petitioner, parent or guardian, or legal representative certifies under penalty of perjury that all information provided is true and correct. *

SUBMIT

د دې سند مطالب یوازې د مالوماتي موخو لپاره چمتو شوي او باید په هیڅ ډول د حقوقي مشورې په توګه ونه ګڼل شي. د کډوالو او پناه غوښتونکو لپاره د متحده ایالاتو کمیټه (USCRI) د متحده ایالاتو د روغتیا او بشري خدماتو وزارت، د ماشومانو او کورنیو اداري څخه د 140D0423C0027 نمبر قرارداد په اساس مالي سرچینې د آزادې سیالۍ له لارې ترلاسه کړې دی. د نویو راغلو افغانانو لپاره د مهاجرت حقوقي خدمات - ایلسا (ILSAA) پروژه سل سلنه (۱۰۰٪) د فدرال حکومت د مالي سرچینو لخوا تمویل کیږي.